
**مطبوعاتي اعلاميه**

**د سوډان د ولسمشر مرستیال! د منافقت بیرغ مو د اقتصادي کړکېچ لامل شوی؛ نه د لا اله الله بیرغ**



**(ژباړه)**

د سوډان د ولسمشر ابراهیم محمود حامد، مرستیال په یوه بیانیه کې داسې وویل: د لا اله الا الله بیرغ ته ژمنتیا مو د اقتصادي وروسته والي اصلي لامل دی، چې اوسمهال مو هېواد ورسره مخ شوی دی.

هغه څوک چې د دغه رژیم تر حاکمیت لاندې وي، ښه پوهیږي چې دا رژیم لا اله الا الله ته هېڅ لیوالتیا نه لري، بلکې د دغه بیرغ پر وړاندې ولاړ دی او ان له۱۹۹۰م راپدېخوا هغه کسان چې لا اله الا الله او د هغې حاکمیت ته دعوت کوي، نیسي او بندیانوي یې او د دې خاورې د مسلمانانو د ژوند په صحنه کې د منافقت بیرغ په بیا راوستلو کې د حمال حیثیت لري. لاندې موارد پر دغه امر دلالت کوي.

-آیا هغه قضایي نظام چې د سوډان د حاکمانو له لوري د دې خاورې پر مسلمانانو پلی کېږي، د جمهوریت د حکومت یو ډول نه دی، چې قاضي ته واک ورکوي ترڅو د خپلې خوښې پر بنسټ د قانون جوړونې شوراګانو له لارې قوانین جوړ کړي؟ په داسې حال کې چې د اسلام سیاسي نظام(خلافت) یو اصل دی او له الهي قوانینو پرته بل څه نه تطبیقوي.

-آیا هغه اقتصادي نظام چې د دغه رژیم له لورې پلی کېږي په خورا بده بڼه د پانګوالۍ نظام نه دی، چې سود یې په قطعي ډول مباح ګڼلی، د خلکو پانګې په ناقانوني ډول خوري او د دې خاورې پانګه یې د پانګې اچونې په نامه په کفارو لوټ کړه، چې په پایله کې د دې خاورې اوسېدونکي د ښکاره او پټو پانګو له لرلو سره سره له قحطۍ او لوږې سره مخ شوي دي؟

-آیا دا هماغه رژیم نه دی چې زراعتي او صنعتي پروژې یې لغوه کړې او وروسته یې له حرامې لارې د خلکو پیسې غصب کړې، چې دا کار یې د اقتصادي وروسته پاتې کېدو او له منځه تلو لامل شو؟ د دوی په اړه د حضرت علي رضی الله عنه دا خبره صدق کوي چې وايي:« څوک چې د خلکو توان ته په کتو سره خراج نه غواړي، قطعاً یې ځمکه تباه کړې خلک یې غریبان کړي او په خپله به هم ډېر ژر له منځه لاړ شي.»

هغه څوک چې د لا اله الا الله بیرغ په حق سره پورته کوي، قوانین یې کاروي او افکار یې له دغه بیرغ سره سم تنظیموي، الله سبحانه وتعالی خپل نعمتونه ورکوي او په مال کې یې برکت اچوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾

[اعراف: ۹۶]

***ژباړه:*** *که د ودانیو او ښارونو اوسېدونکو ایمان راوړی وی او تقوا یې غوره کړې وی، د ځمکې او اسمان برکتونه مو پرې نازلول؛ خو دوی حق پټ کړ، نو موږ هم دوی ته د خپلو کړنو جزا ورکړه.*

*او بیا الله سبحانه وتعالی فرمایي:*

﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾

[طه: ۱۲۴-۱۲۳]

*ژباړه: کله چې زما هدایت تاسو ته در ورسېد، که چا زما له هدایت څخه پیروي وکړه، نه ګمراه کېږي او نه به هم په غم کې وي او که څوک له ما څخه مخ واړوي، ستونزمن ژوند به ولري او د قیامت په ورځ یې ړوند حشر وو.*

**اې ظالمو حکامو او رهبرانو!** د مسلمانو ډلو په حق کې مو منافقت او غفلت ودروئ، ځکه خلک ستاسو د حاکم نظام له ستنو او د منافقت بیرغ له رپولو غافل نه دي. له الله سبحانه وتعالی ووېرېږئ او د محشر ورځ مه هېروئ، قضیه اسلامي امت ته پرېږدئ، چې دوی الله سبحانه وتعالی او پیغبر صلی الله علیه وسلم ته له ژمن کس سره په اخلاص بیعت وکړي، له هغه چا سره چې د لا اله الا الله محمد رسول الله بیرغ ورپوي او الهي شریعت پر نړۍ نافذ کړي او د نبوت پر منهج د راشده اسلامي خلافت په راوستلو سره دا ذلیل ژوند په یوه اسلامي ژوند بدل کړي.

**د حزب التحریر-ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر**

د صدور ګڼه:HTS۱۴۳۹/۲۴

۱۴۳۹هـ.ق، د جمادی الاول ۷مه

۲۰۱۸م، د جنوري ۲۴مه

ژباړن: حبیب الله